**Ministerium für**
**Bildung, Wissenschaft und Kultur**
**Mecklenburg-Vorpommern**

**- Die Ministerin -**

د هغو ټولو میندو او پلرونو
د پاملرنې لپاره چې ماشومان یې
په مکلنبورګ – فورپومرن کې یوه ښوونځې ته ځي

**پستي پته:**
**19048 Schwerin**
**د وزارتخانې پته:**
**Ministerium für**
**Bildung, Wissenschaft und Kultur**
**Mecklenburg-Vorpommern**
**Werderstraße 124**
**19055 Schwerin**

**تیلفونی شمیره: 0385 588-0**
**فکس شمیره: 0385 588-7082**

**د تنفسی لارې د ناروغۍ «کووید – 19 » د مخنیوي لپاره ښوونځي ته د تګ ممانعت**

14 مارچ 2020

ګرانو میندو او پلرونو،

نن زه د یو اضطراري وضعیت له امله تاسو ته مخ اړوم. څرنګه چې تاسې له رسنیو (میدیا) له لارې به هم خبر شوي یاست، ایالتي حکومت مجبوره شوی **چې د 2020 کال د مارچ له 16 څخه د اپریل تر 19 پورې** د مکلنبورګ – فورپومرن ماشومانو ته اجازه ور نه کړي چې ښونځیو ته لاړ شي.

له دغو سختو تدابیرو سره موږ غواړو چې د تنفسی لارې ناروغۍ «کووید – 19 »، د نور زیات خپریدو مخه ، تر کومې اندازې چې ممکن دی، ونیسو او په خاصه توګه زاړه خلک او هغه کسان چې له دې مخکې په نورو ناروغیو اخته دي، په نوموړي ویروس له ملوث کیدو څخه وژغورو. د دې لپاره چې یو غوره ممکنه بریالیتوب ته ورسیږو، موږ باید په ګډه عمل وکړو.

زه ښه پوهیږم چې تاسو یو ګڼ شمیر نه ځواب شوې پوښتنې لرئ. په همدې وجه زه شخصا تاسو ته مخ اړوم او غواړم چې په دې اړه د روان وضعیت په هکله تاسو ته معلومات درکړم.

په لومړي سر کې ښایي تاسې تعجب وکړئ چې ولې پر داسې یو سخت تصمیم لاس پورې شوو، حال داچې په مکلنبورګ – فورپومرن کې له ښه مرغه تراوسه پر دغه ویروس د اخته خلکو شمیر نسبتا ډیر لږ ثبت شوی دی. خو د یو لنډې مودې لپاره د ښونځیو تړل ضروري دي، ځکه چې د دغې ناروغۍ د خپریدو په شروع کې دا امکانات لرو چې د هغې د لازیات خپریدو مخه ونیسو.

په همدې وجه **سر له دوشنبه د 2020 کال د مارچ له 16 څخه د مکلنبورګ په ښونځیو کې تدریس** صورت نه مومي. **البته په دې کې ټول ښونځي عامه دولتي او شخصي ښونځي اوحرفوي ښونځي شامل دي.** له دې امله د دغې نیټې له پیل څخه یواځې عاجلو حالاتو کې چې زه په لاندو کرښو کې ورته اشاره کوم، په ښونځیو کې ستاسو د ماشوم پالنه کولای شوو. د حرفوي ښونځیو له ښځینه او نارینه زده کونکو څخه غوښتنه کیږي چې سر له دوشنبې څخه د خپلو اړوندو حرفو شرکتونو ته مراجعه وکړي.

که چیرې تاسې داسې یوه دنده او یا مشغولیت لرئ چې د عامه امنیت او نظم د ساتلو لپاره ضروری او مهم دي، او د خپل ماشوم د پالنې لپاره نور امکانات موندلای نه شې، موږ به د 1 تر 6 ټولګي زده کونکو لپاره د ښوونې او روزنې د پالنې امکانات **(«دعاجلو حالاتوپالنه»)** په پام کې ونیسو. دا اساسا په لاندې خاصو برخو پورې تړلي دي:

a) اطفائيه يا اوروژنه (د اطفائيي پرسنول او هغه پرسنول چي يواځي د اوروژني مسوول دي)،
b) پوليس،
c) د جزايي چارو مسوولين،
d) د عاجلو ناروغانو د ژغورني مسوولين يا امبولانس کارکونکي،
e) د روغتيايي او طبي تآسيساتو کارکونکي چي په هغو کي درملتونونه هم شامل دي،
f) د عدلي او قضايي چارو تأسيسات،
g) د روغتونونو د امبولانس او بستري چارو پرستاران،
h) د بستري پالنو تأسيسات (د بيلګي په توګه د روزني لپاره مرسته)،
i) د خوراکي توکو د توليد او تدارکاتي چارو مسوولين او دغه راز هغه کارکونکي چي د ورځني اړتياو د موادو او اجناسو د چمتو کولو دندي په غاړه لري،
j) د محلاتو او ايالتي چارواکي، دغه راز هغه چارواکي او سازمانونه چي امنيتي دندې په غاړه لري، محلاتي تأسيسات او شرکتونه، او دغه راز ضروري دندي او هغه دندي چي د ورځني اړتيا د تر سره کولو لپاره حضور يي ضروري دی ( د بيلګي په توګه د اوبو رسولو، د فاضله اوبو او د فاضله موادو يا تنظيفاتو کارکونکي، د ښاري او نژدي عامه ترانسپورتي وسايلو مسوولين «ÖPNV») .

که چيري تاسي د نوموړو کاري مشغوليتونو يو ډلي پوري اړه لری او ستاسو ماشوم د **«عاجلو حالاتوپالني»** ته اړتيا لري، نو لطفا د دوشنبي په ورځ د خپل ماشوم ښونځي ته مراجعه وکړی او په دی اړه نور مسايل او اقدامات د ښوونځي له مديريت سره روښانه کړی. د مارچ 16 مه د يوی منظمي عبوري چاري د تر سره کولو لپاره ټاکل شوي ده.

د «عاجلو حالاتوپالني» تر څنګ تاسو کولای شي چي د تدريس د منع په موده کي که چيرې کومه پوښتنه لری، د خپل ماشوم د اړوند ښونځي له مدير يا مديرې سره اړيکه ونيسی.

د ښووني او روزني وزارت په مرسته به ښوونکي په مناسب ډول سره د خپل سازمان شوي زدکړو لپاره درسي مواد چمتو کړي او له زده کونکو سره به د راتلونکو آزموينو د چمتوالي لپاره په ډيره ښه ممکنه طريقه مرسته وکړي. د زده کړو د محتوا د انتقال د څرنګوالي او له زدکونکو (ښځينه اوناريته) سره د راتلونکو آزموينو د چمتوالي لپاره به هر اړوند ښوونځی د خپل مسووليت له مخي چاري تنظيم کړي. البته د زده کونکو د توانمندي ارزوني لپاره به روان وضعيت په پام کي ونيول شي. په همدي وجه د ښونځيو ترلو له امله د تدريس نشتوالي سره به د زده کونو پر نمراتو ناوړه اغيزه ونه کړي.

په دې اړه به تاسو ته په منظم او دوامداره توګه د جاري او راتلونکونو تحولاتو په هکله د ښووني او روزني، علومو او کلتور وزارت په انترنتي پاڼه (www.bm.mv-regierung.de) کي معلومات درکړای شي.

د بيړنيو پوښتنو لپاره د 2020 کال د مارچ په 14 مه د شنبه په ورځ له 11.00 تر 16.00 بجو او د 2020 کال د مارچ په 15 مه د يکشنبه په ورځ او له 11.00 تر 16.00 بجو پوري يوه عاجله تيلفوني شمير د ښووني او روزني، علومو او کلتور وزارت کي فعاله شوي ده: **HOTLINE: 0385-5887174**
د 2020 کال د مارچ له 16 مي څخه د ښونځيو مديرتونه او د ښوونځيو دولتي دفترونه د معلوماتو لپاره د ميندو او پلرونو په خدمت کي دي.

زه هيله لرم چي تاسي په خپل مخکي پر دغو ننګونو په ډيره ښه وجه لاس برتوب ومومي او زموږ له تدابيرو سره تفاهم ولري او موږ سره په دغه ستونزمن وضعيت کي همکاري وکړی.

په درناوي

Bettina Martin